# د تبې فضائل

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ

اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ عَلَيۡنَا حِكۡمَتَكَ وَانۡشُرۡ عَلَيۡنَا رَحۡمَتَكَ يَا ذَاالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: د تبې فضائل

اول ځل: .............................................

تعداد: ......................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکۡتَبَةُالۡمَدِيۡنَه ته رجوع اوکړئ.

# د تبې فضائل

دا رِساله "بخار کے فضائل" په اردو ژبه کښې ليکلې شوې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

پيشکش:

مجلِس تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د تبي فضائل

**دعائے عطار**: یا ربَّ المُصطَفیٰ! څوک چې دا رساله ”د تبي فضائل“ اولولي یا ئې واوري، هغه په بیمارئ کښې د ګِیلې او شکایت کولو نه اوساتې او ستا په رضا باندې د راضي اوسیدو توفیق ورکړې او د هغه بے حسابه بخښنه اوکړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

آفتابِ شریعت و طریقت، شهزادۀ اعلیٰ حضرت، حُجَّةُ الْاِسلام حضرت مولانا حامد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ډیر لوئے عالِمِ علومِ اسلام، عاشقِ شاهِ اَنام، عاشقِ صحابه کرام و اولیائے کرام، او عاشِقِ دُرُود و سلام وو. کله به چې هم ورته د عِلمي و تدریسي کارونو نه فُرصت ملاو شو نو په ذِکر و دُرُود کښې به مشغول شولو. د هغوئي په بدن دانه راختلې وه او د هغې آپریشن کول ضروري وو ډاکټر ورته د بےهوشئ انجکشن لګول غوښتل خو هغوئي منع کړو او د درود و سلام په وِرد کښې مشغوله شول، د هوش و حواس په حالت کښې دوه درې ګینټو پورې آپریشن جاري وو خو د دُرُود شریف په برکت هغوئي د هیڅ قسمه تکلیف اظهار اونکړو. (تذکرۂ مشائخِ قادریہ رضویہ ص485ملخصا)

شهزادۀ اعلیٰ حضرت مولانا حامد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خپل د نعتونو کتاب ”بیاضِ پاک“ کښې لیکي:

شکیبِ دل قرارِ جاں محمد مُصطفےٰ تم ہو
طبیبِ دردِ دل تم ہو مرے دل کی دوا تم ہو

غریبوں دَرد مَندوں کی دوا تم ہو دُعا تم ہو
فقیروں بے نَواؤں کی صَدا تم ہو نِدا تم ہو

اَنا مِن حَامِد وَحَامِد رضا مِنّی کے جلوؤں سے
بِحَمْدِ اللّٰہ رَضا حامد ہیں اور حامِد رضا تم ہو

(بیاضِ پاک،ص15،13)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## تبه څه ته وائي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ماهنامه فیضانِ مدینه بمطابق جُمادَی الْاُخرٰی 1438ھ صفحه 20 کښې دي: تبه زمونږ په جسم کښې د څه اِنفیکشن د وجهې نه کیږي. د هغې په وجه د جسم مدافعتي نظام (Immune System) په حرکت کښې راشي او په جسم کښې موجود وائټ سیل د هغې خلاف کار شروع کړي چې د هغې په نتیجه کښې د جسم درجهٔ حرارت (Temperature) زیات شي، دې ته تبه وائي. که ټمپریچر 102 نه زیات شي نو تبه ډیره شي.

(ماہنامہ فیضانِ مدینہ جمادی الاخری 1438ھ)

## د ټولو نه اول تبه په چا باندې راغلې وه؟

د اللّٰه پاک آخري نبي، مکّی مَدَنی، مُحَمَّدِ عَرَبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: حضرت نوح نَجِیُّ الله عَلَیْهِ السَّلَام چې کله د هر څيز دوه جوړے [ځان سره په کشتۍ کښې] سوَرې کړې نو خپلو اصحابو ورته عرض اوکړو: مونږه څنګه په اطمینان اوسیدے شُو چې زمونږ سره اَزمرے هُم دے لهٰذا اللّٰه پاک په اَزمري باندې تبه راوسته نو هغه وخت په زمکه باندې اول ځل تبه راکوزه شوه. بیا خلقو د مږې په باره کښې عرض اوکړو چې دا زمونږ خوراک او سامان خرابوِي، نو اللّٰه پاک د شیر په زړهٔ کښې خیال پیدا کړو نو هغه ته پرنجے ورَغے نو د هغې نه پیشو راووتله چې د هغې نه مږه اویریده او کښیناستله. (تفسیر دُرِّمنثور، 4/428)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د اللّٰه پاک له طرفه راتلونکو آزمائشونو باندې د اللّٰه پاک د رضا د پاره صبر کول پکار دي ځکه چې ډیر ځل جسماني

بيمارئ د **الله** پاک د رحمت سبب ګرځي او کله د دې وجهې نه د ګنهګارو ګناهونه هم معاف کيږي، حضرت علامه جلال الدين سيوطي شافعي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکي: قرآنِ کريم کښې پاره 16سوره مريم، آيت نمبر 71 کښې ارشاد دے: ﴿وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتۡمًا مَّقۡضِيًّا ۚ﴾ [مَفهُوم] ترجمۀ کنزالايمان: "او په تاسو کښې داسې هيڅ څوک نشته چې هغه به په دوزخ نه تيريږي، دا ستا د رب په ذِمّه ضرور ترلې خبره ده." د دې آيت په تفسير کښې تابعي بزرګ، مفسر قرآن، حضرت امام مجاهد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د مُؤمِن په دوزخ کښې وُرود (يعني داخليدلو نه مراد) د هغه په تبه کښې مبتلا کيدل دي. (کشف الغمة في فضل الحمى، ص8)

## د تبې کيدلو يوه وجه

صحابي رسول حضرت ابوهريره رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تبې د يو مريض پوښتنه اوکړه، زه هم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ووم. نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته ارشاد اوفرمائيل: تا ته دِ مبارک شي ځکه چې **الله** پاک فرمائي: تبه زما اور دے. زه په دنيا کښې خپل مُؤمِن بنده په دې کښې مبتلا کووم چې د قيامت په ورځ د جهنم د اور بدله اوګرځي.

(حلية الاولياء، 88/6، رقم: 8907، ابن ماجه، 105/4، حديث: 3470)

## د ګناهونو بيماري

د صحابي رسول حضرت ابودرداء رَضِىَ اللهُ عَنْهُ په مرض (يعني بيمارئ) کښې چا هغوئي ته عرض اوکړو: ستاسو څه مرض دے؟ (نو هغوئي د عاجزئ په طور) ارشاد اوفرمائيل: د ګناهونو. عرض اوکړے شو: تاسو څه غواړئ؟ اوئې فرمائيل: د خپلو ګناهونو بخښنه. خلقو عرض اوکړو: آيا مونږ ستاسو د پاره طبيب [يعني ډاکټر] را اُوبلو؟ ارشاد ئې اوفرمائيل: زه طبيب (يعني **الله** پاک) بيمار کړے يم. (قوت القلوب، 36/2)

## د ګناه نه لويه بله کومه بيماري ده؟

د صحابي رسول حضرت ابودرداء رضی اللہ عنہ عاجزي و انکساري صد کروړ مرحبا! په دې روايت کښې زمونږ د پاره ډير لوئے درس دے څکه چې په اصل کښې هلاک کوونکې او برباد کوونکې بيماري ”د ګناهونو بيماري“ ده. يو بزرګ رحمۃ اللہ علیہ د يو کس نه تپوس اوکړو: زما نه چې جُدا شوے وې نو څنګه حال دِ وو؟ هغه اُووئيل: صحيح سلامت ووم. بُزُرګ رحمۃ اللہ علیہ اُوفرمائيل: ”که د **الله** پاک نافرماني دِ نه وه کړې نو سلامتئ سره اوسيدلے ئې او که نافرماني دِ کړې وي نو د ګناه نه لويه بله کومه بيماري ده څکه چې څوک د **الله** پاک نافرماني اوکړي د هغه د پاره هيڅ سلامتي نشته“. (احياء العلوم، 4/358)

یہ تِرا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر　　یہ مَرَض تیرے گناہوں کو مِٹا جاتا ہے

اَصل بربادکُن اَمراض گُناہوں کے ہیں　　بھائی کیوں اِس کو فراموش کیا جاتا ہے

(وسائلِ بخشش، ص432)

خوږو اسلامي ورورنړو! جسماني بيماري خو ډير ځله د ګناهونو د معافئ او د درجاتو د اوچتوالي سبب ګرځي، خو افسوس! مونږه د جسماني بيمارئ نه بچ کيدلو د پاره څومره تدبيرونه کوو، کاش چې د ګناهونو د بيمارئ نه د بچ کيدلو کوشش هُم اوکړو، کرونا وائرس، ډينګي وائرس، مليريا، ټي بي، کينسر، او د فالج په شان هلاک کوونکو بيمارو نه يَريږو حالانکه د دې نه څو چنده خطرناکه بيماري د ګناهونو بيماري ده. ګناه ګول خو لرې خبره د ګناه په باره کښې سوچ کولو نه هم ويره پکار ده څکه چې جسماني بيماري به زيات نه زيات د بنده ساه واخلي او د ګناه بيماري ايمان هُم ضائع کولے شي، د **الله** پاک د رضا د پاره

جسماني بیمارئ باندې په صبر کولو اجر و ثواب بلکه د شهادت مرتبه هم حاصلیدے شي، لکه څنګه چې د تبې په باره کښې حدیثِ پاک کښې دي چې: په تبه کښې وفات کیدونکے شهید دے. (کنزالعمال،178/2)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تبه یوه عامه بیماري ده، شاید که څوک داسې وي چې په هغه به نه وي راغلې. د تبې په باره کښې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو څو فرامین اولولئ او په تبه کښې د کِیلې، شِکایت کولو په ځائے د **الله** پاک په رضا باندې راضي اوسئ او په صبر کولو د عظیم الشّان اجر و ثواب حق دار جوړ شئ!

## د جنت 8 دروازو په نسبت د آخري نبي ﷺ 8 فرامین

﴿1﴾ کله چې یو بنده نارینه یا زنانه مسلسل په تبه او سر درد کښې مبتلا شي او په هغه باندې د اُحد د غر همره ګناهونه وي نو چې کله هغه بیماري د هغهٔ نه جدا شي نو د هغه په سر باندې د ورې د دانے برابر ګناه هم نه وي.

(الترغیب والترہیب، 151/4،رقم:67)

﴿2﴾ څوک چې یوه شپه په تبه کښې مبتلا شو او په هغې باندې صبر اوکړي او د **الله** پاک نه راضي اوسي نو د خپلو ګناهونو نه داسې اُوځي لکه په هغه ورځ چې وو کله چې مور زیګولے وو. (شعب الایمان، 167/7،حدیث:9868)

﴿3﴾ تبه د جهنم د جوش نه ده او دا د مُؤمِن د جهنم نه حصه ده.

(الترغیب والترہیب، 153/4،حدیث:83)

﴿4﴾ تبه د جهنم بتئ ده لِهٰذا د دې نه چې څومره مقدار مُؤمِن ته اورسي دا د هغه د جَهنَّم نه حصه وي. (مسند امام احمد، 275/8،حدیث:22227)

﴿5﴾ **الله** پاک د یوے شپې په تبه کښې د مُبتلا مُؤمِن تیر شوي ټول ګناهونه معاف کوي. (الترغیب والترہیب، 153/4،حدیث:78)

﴿6﴾ تر څو پورې چې په تبه کښې د اخته کس په ښپه درد وي او د هغه رګ ټوپونه وهي هغه ته د دې په بدله کښې نیکیانې ورکولے کیږي.
(جنت میں لے جانے والے اعمال، ص616)

﴿7﴾ مُؤمِن بنده چې کله بَر [یعني ګرمي] اُووهي یا ئې تبه شي نو د هغه مثال د هغه اوسپنې په شان دے چې هغه [اُوسپنه] په اور کښې واچولے شوه نو اور د هغې زنګ لرې کړو او [د هغې] ښه والے ئې باقي پاتې کړو. (مستدرک، 536/4، حدیث:5880)

﴿8﴾ تبې ته بده مه وائې ځکه چې دا خو د ګناهونو نهٔ داسې پاک کول کوي څنګه چې اور د اوسپنې خِیرے لرې کوي. (ابن ماجه، 104/4، حدیث:3469)

## بل ته حدیثِ پاک لوستلو سره به ورته شفاء ملاویده

حضور محدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد خان رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ یو ځل ارشاد اوفرمائیل: کله چې خلق بیمار شي، تبه ئې شي یا ئې په سر درد شي نو هغوئي دوائي خوري، خو ماته چې څه تکلیف شي نو زه چا ته حدیثِ مصطفے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوښایم، هغې سره ماته آرام راشي. (حیاتِ محدث اعظم، ص153)

جس کو مرضِ عشق نہیں ہے وہ ہے بیمار    اچھا تو وہی ہے جو ہے بیمار تمہارا
ہر وقت ترقی پہ رہے دَردِ محبت    چنگا نہ ہو مولیٰ کبھی بیمار تمہارا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آیا کله هُم نه بیماریدل ښه خبره ده؟

صحابي رسول حضرت ابو الیَقظان عمار بن یاسر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه کیر چاپیره خلق د حلقے په شکل کښې ناست وو چې د بیمارئ تذکره اوشوه نو یو باندیچي [د کلي اوسیدونکي یو کس] ډیر په فخر سره اووئیل: زه خو کله هُم نه یم بیمار شوے، دا ئې چې واوریدل نو هغوئي سمدستي اوفرمائیل: ته زمونږ نه نهٔ ئې ځکه چې د

کامل ایمان والا د مصیبتونو په ذریعه آزمائیلے کیږي او د هغه ګناهونه داسې غورزیږي ځنګه چې د ونې پاڼې رژیږي. (شعب الایمان، 7/178، حدیث:9913)

## مبارک مرضونه

اعلٰي حضرت، امام اهل سنت، مولانا امام شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي:د سر درد او تبه هغه مبارک مرضونه دي چې دا به انبیائے (کرامو) عَلَيْهِمُ السَّلَام ته کیدل. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص118)

## 40 ورځو کښې که بیماري رانشي نو؟

اے عاشقان رسول! سرکارِ اعلٰي حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جسم په حق کښې کله کله لړه تبه، زُکام، د سر درد او د دې په مثل وړې بیمارۍ بَلا [یعني مصیبت] نه بلکه نعمت دے بلکه د دې نه کیدل بَلا ده. په مَردانِ خُدا [یعني د الله پاک په نیکو بندګانو] باندې که څلویښت ورځې [داسې] تیرې شي چې څه عِلّت و قِلّت ورته اُونه رسي (یعني چې بیماري او پریشاني پرې رانَشي) نو استغفار و اِنابت کوي (یعني توبه کوي او رجوع کوي) چې هسې نه پرے راپسې نه وي راسست کړے شوے (یعني ځنګه چې نافرمانو خلقو ته د ګناه په وجه مُهلت ورکولے کیږي، چرته داسې معامله زمونږ سره نه وي شوې) (فضائلِ دعا، ص173)

## هیڅ خیر او ښیګړه نشته

اے عاشقان اولیا! زمونږ د بزرګان دین طریقه کار به دا وو چې که په کوم کال به په هغوئي یخپله یا د هغوئي په مال څه مصیبت رانغے نو ویریدل به او وئیل به ئي: "مومن ته په هرو څلویښتو ورځو کښې څه نه څه د ویرې [او پریشانۍ] معامله یا ازمیښت ضرور پیښیږي." حضرت ضحاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې

په خلوېښتو شپو کښې يوه شپه هم په غم درد کښې ګرفتار نه شو، د **اللّٰه** پاک په نزد د هغه د پاره هيڅ خير و ښېګړه نشته. (مکاشفة القلوب،ص15)

وہ کہ آفات میں مبتَلا ہیں جو گرفتارِ رنج و بلا ہیں
فضل سے اُن کو صبر و رِضا کی میرے مولٰی تو خیرات دے دے
(وسائل بخشش،ص125)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د يو يو رګ ګناه

اعلٰي حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هر مرض يا تکليف چې د جسم په کوم موضِع (يعني ځائے) باندې وي هغه زياته کفاره د هغه ځائے وي چې د هغې تعلق خاص د هغې سره دے خو تبه هغه مرض دے چې په ټول جسم کښې خورېږي چې هغې سره بِاِذْنِهٖ تعالٰی (يعني د **اللّٰه** پاک په حکم) د يو يو رګ ګناه اوباسي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه چې ما ته اکثر حرارت [يعني تبه] او د سر درد وي. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت،ص119)

## د اللّٰه والؤ شان

امام ابو طالب مکّی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائی: يو عارف (يعنى د اللّٰه پاک پېژندلو والا بُزُرګ) فرمائي چې زما زړهٔ ډېر زيات پاک و صفا هغه وخت وي کله چې زما تبه وي. (قوت القلوب،2/37)

د هُم دغسې اللّٰه والؤ مقوله ده: نَحْنُ نَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ کَمَا يَفْرَحُ اَهْلُ الدُّنْيَا بِالنِّعَم يعني مونږ په بلاګانو او مصيبتونو کښې اخته کېدو باندې داسې خوشحالېږو څنګه چې اهلِ دُنيا د دُنيوي نعمتونو په لاس راتلو خوشحالېږي. ياد ساتئ! مصيبت

بعضې وخت د مُؤمِن په حق کښې رحمت وي او په صبر کولو د عظيم اجر ګټلو او بےحسابه جَنَّت ته د تللو موقع فراهم کوي.

چُپ کر سِیں تاں موتی مِلسن، صَبر کرے تاں ہیرے
پاگلاں وانگوں رَولا پاویں ناں موتی ناں ہیرے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## خوشخبري واورۍ!

حضرت بي بي اُمِّ مالک رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: زه د سختې تبې د وجهې نه رېيدم چې زما خواه ته حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او ارشاد ئې اوفرمائيل: اے اُمِّ مالک په تا څه شوي دي؟ ما عرض اوکړو: اُمِّ مِلدَم، (دا د تبې کُنيَت دے) الله پاک چې څه اوکړل اوئې کړل، د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: اے اِمِّ مالک! تبې ته بده مه وايه، ځکه چې الله پاک د دې په سبب د بنده نه ګناهونه داسې غورزَوِي څنګه چې د ونې نه پاڼې غورزيږي .

(کشف الغمۃ فی فضل الحمی، ص8)

## بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم کښې د تبې حاضري

د مسلمانانو دوئيم خليفه، حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ يو ځل بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شولو نو د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې تبه حاضره شوې وه، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې لاس کيښودو نو د ډير کرم والي د وجهې نه ئې واپس لاس اوچت کړو او عرض ئې اوکړو: يارسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو خو ډيره سخته تبه ده، نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: ما نن د ورځې يا پرون د شپې داسې د اويا

سورتونو تلاوت کړے دے چې په هغې کښې سَبع طِوال وو[1]، هغوئي عرض اوکړو: یارسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **الله** پاک بےشکه **الله** پاک ستاسو په خاطر او برکت ستاسو [د اُمَّت] د مخکښینو او وروستنو ګناهونه معاف کړي دي لِـهٰذا تاسو په خپل ځان باندې نرمي کوئ، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیل: آیا زه د خپل رب شکر ګزار بنده جوړ نه شم؟ (کشف الغمة فی فضل الحمی للسیوطی، ص16)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک په شرح کښې فرمائي: معلومه شوه چې غلام دِ د خپل آقا د مزاج تپوس هم کوي او د هغه جسم ته دِ لاس هم لګوي، د حدیث شریف په دې حصه کښې (آیا ستاسو تبه ستاسو په اجر کښې د اضافے کولو د پاره ده؟) د حدیثِ پاک د دې حِصَّے لاندې مفتي صاحب فرمائي: دا دے د صحابه کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان ادب و احترام یعني یارسول الله! دا خو ګمان هم نه شي کیدے چې ستاسو بیماري ستاسو د خطاګانو معاف کولو د پاره ده، ستاسو خو د ګناه او خطا سره هډو نسبت نشته، ستاسو بیماري خو صرف د درجاتو د بلندئ د پاره کیدے شي، د دې نه معلومه شوه چې په کومو څیزونو باندې زمونږه ګنهګارو ګناهونه معاف کیږي هغې سره د نیکانو درجے اوچتیږي (په حدیث کښې) د مسلمان نه مراد ګنهګار مسلمان دے.

(مرآۃ المناجیح، 2/411410)

## د انتقال شریف نه مخکښې د تبې حاضري

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د **الله** پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مرض موده (د انتقال نه مخکښې) دولس ورځې وه او د نبي

[1] … سُورۃُالبَقَرَۃ، اٰلِ عمران، النساء، المائدۃ، الانعام، الاعراف، الانفال، التوبة، دې اتؤ سورتونو ته سبع طِوال وائي او د الانفال او التوبة په مینځ کښې د بِسْمِ الله نه کیدلو په وجه دا دواړه یو شمیرلے کیږي. عِلمیه

کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تبه د دردِ سر د وجهې نه وه. صحابي رسول حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہما فرمائي: کله چې په حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې سورۂ نصر ﴿اِذَا جَآءَ نَصۡرُ اللّٰهِ وَ الۡفَتۡحُ ۙ﴾ نازل شو نو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیل: ماته زما د انتقال خبر راکړې شوې دې. (سنن الدارمی، المقدمة، باب فی وفاة النبی صلی الله علیه وآله وسلم، 51/1، حدیث: 79) بیا نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا خواه ته په داسې حال کښې تشریف راوړو چې تبه ئې وه. (د مرض مبارک په ورځو کښې) ځان قربانوونکو صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان چې کله د خپلو زړونو درمان او سکون رحمت کونین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه بغیر لمونځ ادا کولو نو د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په یاد کښې ئې سخته ژړا شروع کړه، چې نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي ژړا واوریدله نو دعا ئې اوفرمائیله چې: یاالله! په تبه باندې مقررې فرښتې ته حکم اوفرمایه چې ستا په نبي باندې [تبه] کمه شي چې زه بهر ته تشریف یوسم او خلقو ته لمونځ ادا کړم او د دنیا پریښودلو نه مخکښې خپلو صحابهٔ کرامو ته "الوداع" اووایم. (د دعا اثر فوراً ښکاره شو او) نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل جسم مبارک کښې د تبې کمې محسوس کړو او اودس ئې اوفرمائیلو او د حضرت فضل بن عباس، حضرت اُسامه بن زید او حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُم په مدد سره ئې بهر ته تشریف راوړلو. (الروض الفائق، ص261)

## د مرض مبارک کیفیت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د الله کریم د خوږ نبي، مکي مدني، محمد عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د انتقال شریف مرض د سر مبارک د درد نه شروع شو او ښکاره دا وه چې د سر درد د تبې سره وو ځکه چې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مرض کښې تبه ډیره زیاته شوې وه، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به طَشت (یعني د ښانک په شان یو لوئ

لوښي) کښې تشریف فرما شو او 7 مشکه اوبه به پرې واچولے شوې، خوږ نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اوبو په ذریعه یخ والے حاصلولو، په هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې کمبل اچولے شوے وو کوم کس به چې په کمبل باندې بره لاس کیښودو نو د بره نه به ئې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تبې ګرموالے محسوسولو، د دې په باره کښې ترینه تپوس اوشو نو اوئې فرمائیل: په مونږ هُم دغسې تکلیف سخت وي او زمونږ د پاره اجر زیات کړے شي او اوئې فرمائیل: په ما باندې داسې تبه راځي څنګه چې ستاسو په دوو سړو باندې راځي.

(ابن ماجه، 370/4، حدیث:4024، بخاری، 155/3، حدیث:4442، بخاری، 5/4 حدیث:5648 ماخوذا)

د مسلمانانو خوږه مور حضرت عائشه صدیقه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ما د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زیات په سخت مرض کښې څوک نه دے لیدلے. (یعني د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هره بیماري، درد، تبه، وغیره به د نورو خلقو د بیمارو نه ډیره سخته وه.)

## د 7 مشکونو حکمت

شارح بخاري حضرت علامه غلام رسول رضوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاک د دې حِصَّے (چې نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په طشت (یعني یو لوئ لوښي) کښې تشریف فرما کیدلو او هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې به د 7 مشکونو اوبه اچولے شوې، د دې) په شرح کښې لیکي: حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چې په کوم لوښي کښې تشریف فرما کیدلو هغه غالباً د لرګي وو او هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (دا اُوبه) ځکه طلب کړې وې چې په مریض باندې کله یخې اوبه واچولے شي نو په بعضو مرضونو کښې د هغه طاقت بحال شي، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مشکونو کښې دا شرط کیښودے وو چې د هغې خُلې خلاصې وي ځکه چې اوبه لاسونو ته اُونه لګي نو پاکې او صفا وي او ووه مشکونه ئې ځکه اُوفرمائیل چې د 7 په عدد کښې برکت دے.

(تفهیم البخاری، 461/1 بتغیر)

## د 7 عدد

اعلٰي حضرت رَحْمَةُاللّٰہِعَلَيْه فرمائي: د 7 عدد د افضلو عددونو نه دے.

(فتاوىٰ رضويه، 232/6)

او د 7 په عدد کښې د ضرر و آفت (يعني د نقصان و مصيبت) لرې کولو يو خاص تاثير دے. (تفهيم البخارى، 461/1 بتغير) يو بل مقام کښې نور فرمائي: د 7 په عدد کښې حکمت او راز دا دے چې دا د زهرو او جادو د ضرر (يعني نقصان) لرې کولو خاص تاثير لري. د حديثِ پاک نه دا ثابت دي چې څوک سحر وختي 7 عجوه کجورې اوخوري نو هغه ته به په هغه ورځ د زهرو او جادو نه نقصان نه رسيږي.

(بخارى، 540/3، حديث: 5445، فتاوىٰ رضويه، 183/24 ملتقطاً)

ساتِ پردوں میں نظر اور نظر میں عالم  کچھ سمجھ میں نہیں آتا یہ معما تیرا

(ذوقِ نعت، ص20)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فنافي الرسول، عاشقِ اکبر رَضِيَ اللّٰہُ عَنْهُ په مرض شريف کښې مشابهت

د مسلمانانو د اولني خليفه، عاشقِ اکبر حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰہُ عَنْهُ د وفات (شريف) اصلي سبب د حضور سيد عالم صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفات (شريف) وو چې د هغې غم تر آخره پورې د هغوئي د زړۀ نه کم نۀ شو او د هغه ورځې نه د هغوئي بدن مبارک ويلي کيدل او نرے کيدل شروع شو. 7 جُمَادَى الْاُخْرٰى 13ھ د ګل په ورځ هغوئي غسل اوفرمائيلو، ورځ يخه وه، تبه پرې راغله. صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د تپوس د پاره ورغلل. او عرض ئې ورته اوکړو چې: اے د رسول الله خليفه! که اجازت وي نو مونږ به طبيب راووبَلو چې ستاسو معائنه اوکړي. هغوئي رَضِيَ اللّٰہُ عَنْهُ اُوفرمائيل چې طبيب خو زه کتلے يم. هغوئي ترينه تپوس اوکړو چې طبيب څه اووئيل؟ اوئې فرمائيل: طبيب فرمائي: اِنِّيْ فَعَّالٌ لِّمَا اُرِيْدُ يعني زه چې څه

غوارم هغه کووم. مراد دا چې حکیم اَللّٰہ پاک دے او د هغه رضا څوک بدلولے نه شي، څه ئې چې مشیت دے هغه به ضرور کیږي د پینځلسو ورځو د بیمارئ نه پس په 22 جُمادَی الاُخرٰی 13ھ ئې د نهې په شپه د درې شپیتو کالو په عمر کښې د دې فاني دنیا نه سفر اوکړو. اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیۡہِ رٰجِعُوۡنَ. (سوانحِ کربلا، ص49)

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

بھٹک سکتے نہیں ہم اپنی منزل ٹھوکروں میں ہے
نبی کا ہے کرم اور رہنما صدّیق اکبر ہیں

(وسائل بخشش،ص567)

## د تعویذ برکت

منقول دي چې: په یو کس باندې تبه راغله، د هغه استاذِ محترم حضرت شیخ محترم عمر بن سعید رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د تپوس د پاره تشریف وروړلو، د تللو په وخت کښې ئې یو تعویذ ورکړو او ورته ئې اوفرمائیل: دا به د کتلو د پاره نه کولاوهې. د هغوئي د تللو نه پس هغه تعویذ اوتړلو، فوراً ترینه تبه لاړه. د هغه نه صبر اونَشو، چې کولاو ئې کړو او اوئې کتلو نو "بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم" لیکلې شوي وو. په زړهٔ کښې ئې وسوسه راغله چې دا خو هر څوک لیکلے شي! په عقیدت کښې د کمې راتلو سره فوراً پرې بیرته تبه راغله. د ویرې نه د شیخ په خدمت کښې حاضر شو او د غلطئ معافي ئې اُوغوښتله. هغوئي بیا تعویذ جوړ کړو او په خپلو لاسو مبارکو ئې ورته اوتړلو، تبه فوراً ختمه شوه. دا ځل ئې د کولاوولو او کتلو نه نهٔ وو منع کړے خو د ویرې نه ئې کولاو نَکړو آخر دا چې یو کال پس ئې کولاو کړو او چې اوئې کتلو نو هم هغه "بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم" پکښې لیکلې شوي وه.

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.
اٰمین بِجاہِ خاتَمِ النَّبِیّیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! واقعي د ”بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم“ ډیر برکتونه دي او په دې کښې د بیماریانو علاج هم دے. د دې واقعے نه دا درس حاصل شو چې که بزرګانِ دین د یو مُباح خبرې نه هُم منع اوکړي نو په عقل کښې د نه راتللو باوجود هم د هغې نه منع کیدل پکار دي او دا درس هم ملاو شو چې تعویذ کولاوول او کتل نه دي پکار چې دې سره د اعتقاد متزَلزَل کیدلو (یعني کمیدلو) اندیښنه وي. بیا په مخصوصه طریقه سره د بندولو په دوران کښې بعضې وخت په هغې باندې څه لوستلے شوي هم وي. لِہٰذا کولاوولو او کتلو سره د هغې په فوائدو کښې کمي هم راتلے شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د یوې ورځې د تبې پتهولو فضیلت

د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په چا چې تبه راغله او هغه یوه ورځ تبه پټه کړه نو اللّٰه پاک به هغه د ګناهونو نه داسې اوباسي لکه څنګه چې ئې د مور د خیټې نه راویستلے وو او د هغه د پاره به د جهنم د اور نه آزادي اولیکي او د هغهٔ پرده پوشي به اوکړي څنګه چې په دنیا کښې هغه د اللّٰه پاک له طرفه ملاویدلو والا بَلا (یعني بیماري) پټه کړې وه. (موسوعۃ ابن ابی الدنیا، 293/4)

وه که آفات میں مبتَلا ہیں جو گرفتارِ رنج و بَلا ہیں
فَضل سے اُن کو صبر و رِضا کی میرے مولیٰ تو خیرات دیدے
(وسائل بخشش، ص125)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مرګ درې قاصدان

د **اللہ** پاک خوږ نبي حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام او د حضرت عزرائيل **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام خپل مینځ کښې دوستي وه. یو ځل چې کله حضرت **مَلَكُ الْمَوت** راغلو نو حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ترینه تپوس اوکړو چې: تاسو ملاقات د پاره راغلي ئې که زما رُوح قبض کولو د پاره؟ عرض ئې اوکړو: ملاقات د پاره. حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ورته اُوفرمائيل: ماته د وفات نه مخکښې قاصد راوليږه. **مَلَكُ الْمَوت** اووئيل: زه به تاته دوه يا درې قاصدان راوليږم. چنانچه کله چې **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام د روح قبض کولو د پاره راغلو نو حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ورته ارشاد اوفرمائيل چې: تا خو به زما د مرګ نه مخکښې دوه درې قاصدان راليږلے، هغه څه شو؟ حضرت **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام اووئيل: د تورو ويښتو نه پس سپين ويښته، د جسماني طاقت نه پس کمزوري، او د نيغې ملا نه پس ملا تِيتيدل، اے يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام! د مرګ نه مخکښې د انسان طرف ته زما قاصدان هُم دا خو دي. (مکاشفة القلوب، ص21)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د مرګ راتللو نه مخکښې **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام خپل قاصدان راليږي. بيان کړو شوو دريو قاصدانو نه علاوه حديثِ مبارکه کښې د نورو قاصدانو تذکره هم شته. چنانچه مرض، د غوږونو او سترګو تغيُّر (يعني مخکښې نظر ښه او بيا کمزورے کيدل او د اوريدلو د طاقت نه وروستو کونړ والے راتلل) هم د مرګ قاصدان دي. حضور نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: تبه د مرګ قاصد ده او دا په زمکه باندې د **اللہ** پاک جيل دے چې په دې کښې **اللہ** پاک تر کوم وخته پورې غواړي بنده قيد کوي بيا ئې پريږدي. (موسوعة ابن ابي الدنيا، 4/244 ملتقطا) په مونږ کښې به ډير داسې کسان وي چې هغوئي له به د **مَلَكُ الْمَوت** قاصِدان راغلي وي خو مونږ په غفلت کښې پراته يُو! که په ويښتو

کښې مو سپين ويښته اولګي نو حالانکه دا د مرګ قاصد دے خو بنده خپل زړۀ ته تسلي ورکولو د پاره وائي چې دا خو د نزلے په وجه سپين شوي دي! دغسې بيماري چې د مرګ ښکاره قاصد دے خو په دې کښې هم مونږه سراسر غفلت کوو حالانکه د "بيمارئ" په سبب روزانه بيشميره خلق مره کيږي! مريض ته خو ډير زيات مرګ يادوَل پکار دي ځکه چې څه معلومه، کومه بيماري چې معمولي شان ښکاري هم هغه مهلِک صورت اختيار کړي او ډير زر مو قبر ته کوز کړي او بيا مو خپلوان ژاړي او دشمنان مو خوشحالئ کوي او مونږه د منونو خاورو لاندې په قبر کښې خخ شُو! آه! بس بيا به مړ شوے کس وي او د هغه ښه او بد اعمال به وي . الله پاک په سُوْرَةُالتَّوْبَه آيت نمبر 126 کښې اِرشاد فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ (پ11،التوبة:126) | | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: آيا هغوئي نه پوهيږي چې هر کال يو يا دوه ځله آزمائيلے کيږي بيا نه خو توبه کوي او نه نصيحت مني. |

حُجَّةُالْاِسلام امام محمد بن محمد بن محمد غزالی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د دې آيت په تفسير کښې وئيلے شوي دي چې د آزمائيلو نه مراد په بيمارو کښې مبتلا کول دي. (يو بل مقام کښې فرمائي:) تبه مرګ وريادوي او عمل کولو کښې سستي تنبتوي. (احياء العلوم، 358/4)

افسوس صد کروړ افسوس! اوس خو د ډيرو هسپتالونو په وارډونو کښې مريضانو ته د سکون ورکولو په غرض قِسماقِسم د ګناهونو ډکې چينلې او د موسيقئ نه ډک مناظر ښودلے کيږي چې دې سره د مريض خيال بدل وي او سکون ورته ملاو شي، دغه شان د بعضې خلقو دا نعره ده چې موسيقي د رُوح

غذا ده، نه، نه! دا د يو غير مسلم او بد طبعيت والا روح غذا خو کيدے شي خو د **الله** پاک او د هغه د رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د منونکو غِذا هيڅ کله هُم نه شي کيدے. که تاسو د روح غذا غواړئ نو راشئ چې زه تاسو ته اوښايم چې د روح غذا کومه ده او دا به څنګه ملاويږي **الله** پاک په سيپاره 13 سُوْرَةُ الرَّعْد، آيت نمبر 28 کښې اِرشاد فرمائي: ﴿اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىٕنُّ الْقُلُوْبُ﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: واورئ صرف د الله په ياد کښې د زړونو سکون دے.

اوس يو مسلمان د پاره د سوچ کولو هيڅ ګنجائش پاتې نه شو، ځکه چې د هر مسلمان د قرآن پاک په يو يو حَرف باندې ايمان دے او څه چې قرآن کريم ارشاد اوفرمائيل هغه حق، حق او بالکل حق دي. سندرې او سازونه اورديدل شيطاني کار دے، سعادت مند مسلمان دې ته نزدے هُم نه ورځي.

## "خيرونه راکړي" د 11 حُروفو په نسبت د تبې 11 روحاني علاجونه

﴿1﴾ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "سورۂ مُجادَله" کوم چې د سيپاره 28 اولنے سورت دے، د مازديګر نه پس ئې درې ځله اولَولئ او اوبه پرې دم کړئ او د تبې مريض باندې ئې اوڅښئ. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص325)

﴿2﴾ د تبې مريض دِ په کثرت سره "بِسْمِ اللّٰهِ الْكَبِيْر" وائي. (بيمار عابد، ص25)

﴿3﴾ که د ګرمئ تبه وي نو "يَاحَيُّ يَاقَيُّوْمُ" 47 ځله اوليکئ يا (د بل چا په مدد سره ئې اوليکئ) او د پلاسټک کوټنګ نه پس ئې په څرمن کښې بند کړئ او په غاړه کښې ئې واچوئ، اِنْ شَآءَ الله تبه به لا ړه شي. (بيمار عابد، ص25)

﴿4﴾ "يَاغَفُوْرُ" په کاغذ باندې درې ځله اوليکئ (يا ئې په بل اوليکئ) او پلاسټك کوټنګ ئې کړئ او په څرمن يا رَيګزين يا کپړه کښې ئې اوګنډئ او په غاړه

ئې کړئ يا ئې په مټ اوتړئ اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيم د هر قِسمه تبې نه به خلاصے اوموميئ. (بيمارعابد،ص25)

﴿5﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 30 ځله په کاغذ اوليکئ او د اوبو په بوتل کښې ئې واچوئ، مَريض ته په ورځ کښې درې پيرې هغه اوبه لږې لږې ورکوئ اِنۡ شَآءَاللّٰه تبه به ئې ختمه شي، د ضرورت مطابق پکښې اوبه شاملوئ.

(د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې) (بيمارعابد،ص25)

﴿6﴾ (لَا يَرَوۡنَ فِيۡهَا شَمۡسًا وَّ لَا زَمۡهَرِيۡرًا ﴿۱۳﴾) (پ29، الدهر: 13) [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نه به په هغې کښې نمر وينې او نه يخنې.

دا آيت کريمه ووه ځله اولولئ (اول آخر درود شريف) او دم ئې کړئ اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم د تبې په زياتي کښې به ښکاره کمے محسوسوي او مريض به سکون محسوسوي.

﴿7﴾ امام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: سورةُالفاتِحه څلويښت ځله اولولئ (اول آخر درود شريف) او اوبه پرې دم کړئ او د تبې د مريض په مخ باندې ئې څاڅکي اوشيندئ اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم تبه به ختمه شي.

﴿8﴾ د اللّٰه پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې تبه راغله نو جبريل امين عَلَيۡهِ السَّلَام دا دعا اولوستله او پرې دم ئې کړلو: "بِسۡمِ اللّٰهِ اَرۡقِيۡكَ مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ يُّؤۡذِيۡكَ مِنۡ شَرِّ كُلِّ نَفۡسٍ اَوۡعَيۡنٍ حَاسِدٍ اَللّٰهُ يَشۡفِيۡكَ بِسۡمِ اللّٰهِ اَرۡقِيۡكَ" (ترجمه: د اللّٰه پاک د نوم په ذريعه تاسو دم کووم د هر هغه څيز نه کوم چې تاسو ته تکليف درکړي د هر نفس د بدئ نه يا د هرې حسد کوونکې سترګې نه. اللّٰه پاک دِ تاسو ته شفاء درکړي زه تاسو د اللّٰه په نوم باندې دم کووم). (مسلم،ص1202،حديث:2186) په عربئ کښې دُعا اولولئ (اول آخر يو يو ځل دُرُود شريف) اولولئ او مريض پرې دم کړئ۔

﴿9﴾ په تبه کښې مبتلا کس دِ دا دعا اولولي: "بِسْمِ اللهِ الْكَبِيْرِ اَعُوْذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ وَّمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ" "ترجمه: د کبريائي والا الله پاک په نوم زه د هر جوش وهونکي رګ د بدئ نه او د اور د ګرمئ د شر نه، د عظمت والا رب پناه غواړم. (ترمذی،20/4، حدیث: 2082)

﴿10﴾ په حديثِ پاک کښې دي: کله چې په تاسو کښې په چا باندې تبه راشي نو په هغه باندې دِ د درې ورځو پورې د سحر په وخت کښې د يخو اوبو څاڅکي اوشيندلے شي. (مستدرک للحاکم،258/9، حدیث: 7626)

﴿11﴾ حديث مبارک کښې دي: تبه د جهنم د جوش نه ده، دا د اوبو په ذريعه يخه کړئ.. (بخاری،396/2،حدیث:3263)

د حضرت علامه مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان خلاصه ده: په اهلِ عرب باندې به اکثر "صَفراوي تبه" راتلله چې په هغې کښې به غُسل مُفيد وو. مونږ ته، کوم چې عجمي يعني غير عرب دي. د طبيبِ حاذِق (يعني ماهر طبيب) د مشورے نه بغير د غسل په ذريعه د تبې علاج نه دي کول پکار ځکه چې په مونږه اکثر هغه تبه راځي چې په هغې کښې غسل نقصاني وي، دې سره د نمونيا خطره وي. حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو کس د حديث پاک ترجمه اولوستله او د غسل په ذريعه ئې علاج اوکړو نو هغه ته نمونيا اوشوه او په ډيره مشکله د مرګ نه بچ شو نو هغه د حديثِ پاک مُنکر شو، حالانکه [داسې کول] د هغهٔ خپل جهالت وو. (مرآۃالمناجیح،430429/2)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! د دې نه دا درس هم حاصل شو چې عوامو ته د ترجمے سره سره د قرآن تفسير او د حديثونو شرح هُم لوستل پکار دي. (چې احاديثِ مبارکه اولولئ نو د يو عاشق رسول عالِمِ دين يا مفتي اسلام نه په هغې باندې د ځان پوهه کولو نه بغير علاج مه کوئ.)

# د هېوکو په ذريعه د علاج کولو مدني ګلونه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! هېوکي هم د الله پاک نعمت دے او په دې کښې الله پاک غذائيت هم ايښودے دے. څوک چې کور کښې ېخولو د پاره د هېوکي نه بغير غوښه اخلي هغوئي د خپل ځان سره سره د کور نور کسان هم د الله پاک د دې نعمت نه محرومه کوي. يقيناً الله پاک يو څيز هم بيکاره نه دے جوړ کړے. هېوکي د غذا سره سره د دوائي کار هم ورکوي. طبيبان بعضې مريضانو ته د هېوکو د يخنۍ څښلو مشوره ورکوي. [کيدے شي چې] تاسو به هم ډېر کرته د هېوکو يخني څښلي وي. البته د خالصې غوښې سوپ به مو کله هم نه وي څښلے! هېوکي ډېر اهم دي، په طِبّي طريقه باندې د هېوکو نه د حاصل شوي عرق انجکشن هم مريضانو ته لګولے کيږي. د غوا ښکر چې ميده کړے شي او په خوراک کښې ګډ کړے شي نو د خلورمې والا (يعني په چا باندې چې په هره څلورمه ورځ تبه راځي هغه) ته ورکولو سره بِإِذنِ الله (يعني د الله پاک په حڪم) شفا حاصليږي. (حیاۃالحیوان الکبریٰ، 219/1)

نہ ہو آرام جس بیمار کو سارے زمانے سے
اُٹھا لے جائے تھوڑی خاک اُن کے آستانے سے

نہ پہنچے اُن کے قدموں تک نہ کچھ حسن عمل ہی ہے
حسن کیا پوچھتے ہو ہم گئے گزرے زمانے سے

(ذوقِ نعت، ص215،214)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې د دعوتِ اسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ 🌸 د سُنّتو د تربيّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او 🌸 هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com